يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوی او یا کوچني اختر کې عیدګاه ته راووت، نو د ښځو تر څنګ تېر شو او ویې ویل: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ، تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ» فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ العَشِيرَ، مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ»، قُلْنَ: وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «أَلَيْسَ شَهَادَةُ المَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا، أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ» قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: «فَذَلِكِ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا». «اې د ښځو ټولیه! صدقه ورکړئ ځکه چې د دوزخ زیاتره خاوندان ماته تاسو راوښودل شوئ، هغوی وویل: اې د الله رسوله، د کوم کار له امله؟ ویې ویل: تاسو ډېر لعنت وایئ، او د خپلو خاوندانو ناشکري کوئ، ما هېڅکله ستاسو په څېر بل څوک د عقل او دین له اړخه نېمګړي نه دي لېدلي چې یو هوښیار سړی له عقل نه خلاص کړي»، هغوی وویل: اې د الله رسوله! پدې کې زمونږ د دین او عقل څه نېمګړتیا ده؟ هغه وویل: "ایا د یوې ښځې شاهدي د نارینه د نیمایي شاهدۍ سره برابره نه ده؟" هغوی وویل: ولې نه، ویې فرمایل: « دا یې د عقل نیمګړتیا ده. آیا داسې نه ده چې کله پرې حیض راشي نو نه لمونځ کوي او نه روژه نیسي؟ هغوی وویل: ولې نه، ویې فرمایل: "دا یې د دین له نیمګړتیا ځخه ده".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اختر په ورځ عیدګاه ته راووت، په داسې حال کې چې د ښځینه وو سره یې ژمنه کړې وه چې یوازې به دوی ته خطبه ورکوي، نو ژمنه یې په دې ورځ پوره کړه او ویې ویل: اې د ښځو ډلې صدقه ورکړئ او ډېر استغفار وایئ؛ دا دواړه د ګناهونو د له منځه وړلو له سترو اسبابو څخه دي، ځکه چې د اِسرا په شپې ما تاسو د دوزخیانو اکثریت ولیدئ. نو له دوی څخه یوې عقلمندې، د نظر خاوندې او هوښیارې ښځې وویل: اې د الله رسوله! ولې د دوزخیانو اکثریت مور یو؟ هغه وفرمایل: د څو کارونو له امله: دا چې زیات لعنت او سپکې سپورې وایئ او د خاوند حق نه منئ. بیا یې د هغوی ځینې ځانګړتیاوې په دې وینا سره بیان کړې چې: ما ستاسو په څېر د عقل او دین له اړخه نیمګړې نه دي لیدلی چې د یو عاقل سړي عقل، حزم او اراده تړي واخلئ او بې واکه یې کړئ. هغې وویل: اېی د الله رسوله! د عقل او دین نیمګړتیا څه ده؟ هغه وفرمایل: د عقل نېمګړتیا دا ده چې د دوو ښځو شاهدي د یو سړي له شاهدۍ سره برابره ده؛ نو دا د عقل نقصان شو، او د دین نېمګړتیا یې نیمګړي نیک عملونه دي چې د حیض له امله په شپو او ورځو بې لمانځه تېروي، او د حیض له امله په رمضان کې روژې خوري، نو دا یې د دین نېمګړتیا ده، خو پدې نېمګړتیاوو سره هغوی نه ملامتېږي او نه پرې نیول کېږي؛ ځکه چې دوی همداسې پیدا شوي دي، لکه څنګه انسان په فطري توګه داسې پیدا شوی چې د مال سره مینه لري او په چارو کې بېړه کوي او ناپوهه دی... او داسې نور، نو خلک یې دې ته متوجه کړل چې څوک پرې ونه غولېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10011